# د پارلمان غړی ښاغلی الیکس هاک

**د کډوالۍ، تابعیت، او مهاجرت د خدماتو**
**او کلتوري چارو وزیر**

**خبر پاڼه**

12 نومبر 2021

## د ایستل شویو افغان کډوالو لپاره د دایمي استوګنې لارې

د موریسن دولت نن د هغو افغان اتباعو سره د مرستې لپاره د نورو ګامونو اخېستل اعلان کړل چې د ایتلاف له وتلو وروسته استرالیا ته را ایستل شوي دي. ایستل شوي افغان کډوال به وکولی شي چې خپلې موجوده ویزې د 12 میاشتو لپاره تمدید کړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د دولت د ملاتړ د خدماتو بشپړې لړۍ ته یې دوامداره لاسرسی ترلاسه کړی څکه چې دوی د استرالیا دایمي ویزو ته د بدلېدو تر پروسې لاندې نیول کیږي.

برسېره پر دې، ایستل شوي افغانان به اوس وکولی شي چې د ساحلي ویزو پر ځای د ساحل د دایمي خوندیتوب ویزو ته خپل د کډوالۍ حالت تبدیل کړي کوم چې زیاتره په استرالیا کې د قرارلرونکو کسانو لپاره د پلي کېدو وړ دي. دا قانوني بدلون د دولت د ملاتړ او د کډوالو لپاره د ځای پر ځای کولو د خدماتو پراخې لړۍ ته د لاسرسي زمینه برابروي.

د 2021 کال د اکتوبر په 14 کې د استرالیا دولت د دایمي وېزو ته د بدلېدو په موخه د ایستل شویو افغانانو د ملاتړ لپاره د تخصصي قانوني خدماتو د ظرفیت لوړونې په موخه د 6.4 میلیونه ډالرو ځانګړې مرسته اعلان کړه. دا پیسې د استرالیا د دولت له لوري د هغو 27.1 ملیون ډالرو په ارزښت د افغانانو د مېشته کولو د مرستې یوه برخه ده چې په دې وروستیو کې د را رسېدلو افغانانو د ځانګړو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په پام کې نیول شوي دي.

د حقوقي خدماتو د ملاتړ سربیره، په دې مرسته کې لاندې موارد شاملیږي:

- د 8 ملیون ډالرو وړیا مرستې تمویل د ټولنې په مشرۍ له اړونده ادارو سره د مرستې لپاره چې راغلو کسانو ته د مېشته کېدو اساسي او ځانګړی ملاتړ وړاندې کړي؛
- 4.8 میلیونه ډالر د کارموندنې روزنې او مهارتونو د لوړولو لپاره د مشورې ورکولو په برخه کې ځانګړي شوي څو د کډوالو ملاتړ وکړي چې وکولی شي په استرالیا کې کاري مهارتونه وپېژني، زده کړو ته لار ومومي او د مناسبې دندې پیدا کړي؛
- 7.9 میلیونه ډالر د تخصصي خدماتو د شتون او ظرفیت لوړولو په موخه د هغو کسانو لپاره مرستې برابروي چې د صدماتو او شکنجې له امله د رواني روغتیا ملاتړ ته اړتیا لري.

دولت د ټولو هغو ممکنه لارو په لټه کې دی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د استرالیا د اوږدمهاله بشري او کډوالۍ د برنامو له لارې د ویزې اختیارونه په افغانستان او نورو هیوادونو کې د ټولو افغان اتباعو لپاره د لاسرسي وړ وګرځوي.

د بشردوستي د برنامې په چوکاټ کې، د کورنیو چارو وزارت ته د دولت له لوري لارښوونه شوې چې د افغانستان څخه د ننه د وېزو غوښتونکو په غوښتنلیکونو باندې کار کولو ته لوړ لومړیتوب ورکړي.

د دې بدلونونو په اړه نور معلومات د یاد وزارت په وېب پاڼه کې موندلی شئ:
https://www.homeaffairs.gov.au/help-and-support/afghanistan-update

**د نورو معلوماتو لپاره: د وزیر له دفتر سره - 7770 6277 02 شمېره اړیکه ونیسئ**